محمد حسن کاکړ ۲۰۱۷/۰۱/۰۳

# جان ستوارټ مِل
# په نوي دقیقو کي
# د آزادۍ فلسفه، تجربي فلسفه،
# د ګټورتوب فلسفه

پنځمه برخه





لیکونکئ: پال ستراټرن

پښتو کوونکئ: محمد حسن کاکړ

*مِل* په ۱۸٤٤ز کال کي اقتصاد یا سیاسي اقتصاد ته، چي هغه وخت په دغه نامه يادېده، مخ واړاوه. اقتصاد لاهم په لومړیو پړاونو کي وو. *ادم سمت Adam Smith* (۱۷۲۳- ۱۷۹۰ز ) د دغه دسپلین لومړنی بنیادي اثر، د ملتونو شتمني *(The Wealth of Nations)* په نامه اویا کاله دمخه خپور کړئ وو. *مل "د سیاسي اقتصاد پرنسیپونه"* په نامه په خپل اثر کي په عمومي ډول د هغو پرنسیپونو له مخي غږېږي، چي ادم سمت د لومړي ځل لپاره ایستلي، او وروسته ډیوېډ ریکارډو *(David Ricardo)* ورته انکشاف ورکړئ وو. دغه دود د "کلسیک اقتصاد" په نامه یاد شو، خو مِل یو څو مهم کشفونه پکي وکړل چي د دغه کلاسیک اقتصاد د تلپاتي تغییر لامل شول. خورا ډېر ژور یې خورا ډېر ساده وو. مِل درک کړه چي قوانین د تولید په اړه دي، نه د وېش په اړه. د کار، مځکي، او ماشین د تولید مؤثریت، ټول به په ځینو افاقي قوانینو سره لړ او ډېر تنظیم شي. دغه قوانین په ځینو محدودونکو عواملو سره متأثر کیږي، لکه طبیعت، (ډېره پرېماني یا قحطي)، د تولید مؤثریت (د کار یا د ماشین) او داسي نور. په دې ډول شتمني د هغو قوانینو او افاقي عواملو له مخي تولیدیږي، چي مونږ قادر کوي د هغه مقدار تر اخیري حده پوری ورسوو، خو همدا چي تولیده شوه، موږ یې وېش " اعظمي حد" ته رسولی نه شو. تر هغه دمخه *ادم سمټ Adam Smith, ډیوډ ریکارډو David Ricardo* او پلویان به یې چي کوم وخت له خپلو هغو قوانینو سره چي دوی خپله ایستلي وو مخ کېدل، ، ځانونه معاف کول. آزاد مارکېټ خپل "طبیعي" قوانین لرل او د هغو په اړه هیڅ کېدلی نه شول.



ارسال مقالات:
spineghar@gmail.com و یا info@arianafghanistan.com



ډيوډ ريکاردو
David Ricardo



ادم سمت
Adam Smith

په پرېماني کې نرخونه کښته لوېدل، او اجورې په حتمي ډول لږېدلې. کرنیزه مځکه چې به نوره هم لږ لږه شوه، اجورې به پورته تللې. که څه هم ډېر کړاوونه ګالل کېدل خو خبره به دغسې ساده وه. د مِل د تولید او وېش جلاوالي دغسې قوانینو ته، چېرته چې په وېش پورې يې اړه لرله، د پای ټکئ کېښود. همدا چې شتمني تولید شوه، همدا چې مالونه مارکېټ ته تیار شول " انسانان په انفرادي یا ټولنیز ډول هغسې سلوک کولی شي، هغه دوی د هغه چا په اختیار کې ورکولی شي چې خپله يې غواړي"."وېش"، "طبیعي" قوانین هیڅ نه لرل."هغه مقررې چې د هغو له مخې "وېش" ټاکل کیږي، د ټولنې د هغې واکمنې برخې نظرونه او احساسات دي، چې جوړوي يې، چې په بېلو بېلو دورو او هیوادونو کې ډېر مختلف دي، او چې انسان يې و غواړي، ممکن نور هم مختلف شي." له وېش سره اخلاقیات یو عامِل کیږي: مِل وښودله چې اخلاقیات څنګه په پانګه والي اقتصاد کې خپله لار پیدا کولی شي.



کارل مارکس
Karl Marx

دا یو ابتکاري بصیرت وو چې د نونسمي پېړی سوشلستانو او د مِل هم مهال، کارل مارکس Karl Marx، څخه ډېر توبیر درلود. (وروستي د"کمونست مانیفست" اثر په همهاغه کال خپور کړ، چې مِل "د سیاسي اقتصاد پرنسیپونه" په نامه خپل اثر خپور کړ.) مارکس او سوشلستان په دې لټه کې ول، چې په سوشلستي کنټرول د ازاد مارکیټ اقتصادي سیستم ونړوي او اخلاقیات په اقتصاد کې داخل کړي. مِل وروسته له هغه چې اول يې تولید له وېش څخه بېل کړ، نظر ورکړ چې "چېرته چې شتمنې په وېش پورې اړه لري، د ګټورتوب پرنسیپونه دې تطبیق شي." هغه وخت د شتمنې د وېش فکر او د ګټورتوب فلسفه د شمال او جنوب قطب په شان سره لیرې ول. داسې ښکارېده چې هغه ددې له پاره طرح شوي وو چې د خورا ډېرو لپاره خورا ډېره بدمرغي تولید کړي. مِل انقلابي نه وو او نه يې غوښتل چې دغه سیستم ونړوي. د هغه له نظرونو څخه مقصد دا وو چې پخپله سیستم ته تحول ورکړي، ددې لپاره چې ټولو ښکیلو خواوو ته يې ښه وګرځوي. د ګټورتوب فلسفه بې له شکه له اول نه اخلاقي فلسفه وه. چې د عصر سوداګرې پیچلتوب باندې تطبیق کېدلی وشي، بې له دې چې ساده یا اسانه ښوول شوي یا ناکافي وي. هغه به اقتصادي ټولنې ته سمدلاسه تحول ورنکړي، خو د هغه عقلي او ورو ورو نفوذ به يې نیمي پېړی کې تر نن پورې جریان لري. که څه هم په دغه ډول اعتراف پرې شوئ نه دئ، خو د ګټورتوب فلسفه د کار مارکېټ، د اتحادیو مذاکرو او د اجرائيوي معاش په سطوحو کې لږ تر لږه د پرنسیب په څېر پر ځای پاتې دئ. هغه بې له دې چې انکار وشي ټولې دغسې اجتماعي معاملې پوهوي خو د هغه مراعات به و نه شي. دا یوازنی معیار دئ. دا د یوه معیار په څېر ګرځېدلئ، چې وېش باندې قضاوت کوو. ویل کیږي چې په لویو کمپنیو کې اجرائي رئیسانو ته له حد نه ډېر معاش ورکول کیږي، هغه دئ چې "مارکېټ يې حکم کوي." دا له اخلاقي بحث نه دباندې د تولید موضوع ده. د دغه تمرین په وړاندې اعتراضونه د مِل د جلاوالي د پرنسیب څخه استفاده کوي، او ټینګار کوي چې دا د وېش موضوع ده. د دې مانا دا ده چې دغسې مواجب تر اقتصادي نه ډېر د نورو ملاحظو تر حاکمیت لاندې دي. هغه ټول

د اخلاقي قضاوت په ساحه کي واقع دي، او دلته ډېرو ته ښکاري چي د هغه ډېر مناسب تطبيق به د ګټورتوب د ايديا د ټولګټي مفکوره وي.

مِل هغه وخت خپل اثر *"د سياسي اقتصاد پرنسيپونه"* په نامه ليکه او د عادت له مخي به يې له *هيريت تيلر* سره په اوني کي لږ تر لږه يو ځل ډوډۍ خوړله. دی لاهم په ژور ډول پرې مين وو. وروسته يې ادعا وکړه چي هغه د ده له علمي کار سره تر دې حده ښکېل شوی وه چي همکاره يې ګرځېدلې وه، او د هغه د کتابونو په ځينو برخو کي يې ډېر ابتکاري فکرونه وړاندي کړی وو. د هغه په نظر هيريت *"د پوره هنرمني"* دماغ لاره. په واقع کي د هغې *"چټکه پوهاوی"* هغه د دې لايقه وګرځوله چي *" د بشريت د واکمنو په ډله کي ځرکنده ځېره وګڼله شي."* خو نورو چي ميني


*هيرييت مِل او جان مِل*

ړانده کړي نه وو، هغه يوه بل ډول ځيره پېژندله: يوه استثنايي او يوڅه مغروره ښځه. حقيقت چي هرڅه وي انکار کېدلی نه شي چي *هري يت* په دغو کلونو کي د مِل دپاره يو لوی الهام او ملاتړه وه. د هغې د همکارۍ دقيقه اندازه تر پوښتني لاندي ده، خو په دې کي شک نشته چي هغې د دغه عصر د يوه نامتو او پراخ نظره متفکر له اثارو سره فکري مرسته وکړه، او هغه هم په غټه اندازه. له همدې امله وو، چي هغه په دې نژدې وختو کي د ښځو د غورځنګ د مخکښانو او نامتو کسانو په ډله کي شمېرل شوې ده. پخپله مِل هم وروسته د ښځو په ازادۍ کي غټ رول ولوباوه، او لکه ځنګه چي و به وينو، هغه بې له شک نه د هغې له ډېرو فکرونو نه بهره من شو.

په ۱۸٤۹ کي د هغې مېړه مړ شو. دوه کاله وروسته، په پای کي مِل له هغې سره واده وکړ. اوس نو دوی په يوه کور کي اوسېدلې شول، بې له دې چي نور ورپسي خبري وکړي. خو د دوی اړيکي د پخوا په شان وې، که څه هم په دې اړه په يقين څه ويل کېدلی نه شي. ټولي نښي ښيي چي د دوی واده تر اخيري حد پوري هيڅ رسېدلئ نه وي. په رښتيا هم که وضع بل ډول وای، ژوند به يې توپير لرلای. په دغه مرحله کي يوه هم د دې توان نه لاره چي په خپلو اړيکو کي فزيکي ستړيا ته غاړه کښېږدي. د مِل وروځي (وريځي) هماغسي په چټکۍ سره رپېدلې، او هري يت له دغسي روحي-جسمي ناروغتيا *(hypochondria)* يا مالخوليا ځخه زوربدله، او يوڅه معيوبه شوه.

په ۱۸۵۸ کي د هند له بلوا نه وروسته د ختيځ هند کمپنۍ منحله شوه، او حکومت د هند اداره په خپل لاس کي ونيوله. *مِل* د کمپنۍ د يوه لوړپوړي اجرائيوي چارواکي په شان ښه تقاعد ترلاسه کړ. هغه او هيري يت د فرانسي سهېل ته لاړل، چيري چي د هغه ځای ښې هوا په هغې ښه اثر وکړي. په دغه وخت کي معلومه شوه چي د هيري يټ "ناروغي ګاني" تر روحي- جسمي ناروغتيا نه ډيري وې. هغې د سل نرۍ رنځ لاره ( چي په غالب احتمال پخپله له مِل نه ورته نقل شوئ وي، چي هغې د سږي په مرض- توخي- اخته وو.) همدا چي دوی د فرانسي *اويګنن* ته ورسېدل، هيري يت سختي تبي ونيوله. *مِل* يوازي په هېښتاک حالت کي ليدل چي مينه يې په ژور ډول مخ په ډوبېدو ده او مړه شوه. *مِل* د دې لپاره چي خپله پياوړې ضربه سپکه کړي، ځان په کار کي ډوب کړ او خپل ډېر مهم، نسبتاً کوچنی اثر په نامه *"د ګټې رسولو فلسفه" (Utilitarianism)* په دغه وخت کي وکاږه، چي په کال ۱۸٦۱ کي خپور شو. دغه اثر د هغه د فلسفي جوهر تشکيلوي- د ګټورتوب فلسفي بنسټ،
چي د هغه په نورو اثرونو کي يې نفوذ کړئ دئ.


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و يا spineghar@gmail.com

د مِل له خوا د بنتهام او د ګټورتوب د فلسفي لومړنی له حد نه دېره ستاینه د هغه د پخوانی عصبي ناروغی له امله معتدله شوه، مِل یې دی ته وهڅاوه چې د بنتهام ډیري ایدیاګاني رد کړي، په تېره د انسانانو د عقلي طبیعت په اړه د هغه دېر ټینګار او د هغه فکر چې انساني سلوک تر محاسبي (د سپېڅلي توب محاسبي) لاندي راځي، په دغسي تحلیل سره انسان مطالعه کېدلی نه شي. د لومړني لاس تجربې مِل ته وښودله چې دا " د تحلیل هغه خاصه ده چې احساسات له لیکني ځخه جلا کوی."


Wordsworthورډزورت

بنتهام یا د ټولني جذباتي او روحي خوا هېره کړې یا په نظر کې نه وه نیولې. د هغه د ګټورتوب نظر منوري ټول - ښېګني فلسفي سره زیانمنه شوی وه. دا سوړ خیرات وو. په رشتیا هم د ټولني په اړه د بنتهام ټوله طریقه د تنور دوري (Enlightenment) تش په نام علمي، په تېره په عقل باندي ټینګار زیانمنه کړې وه. هغه هغه تاریخي انکشافات او پیاوړي جذبات (Passions) ، چې د ټولني د هسکېدني لامِل شوي وه، له نظر ځخه غورځولي وو. له بلې خوا د مِل د ګټورتوب فلسفه، د رومانتیکي لیکوالو لکه ورډزورت Wordsworth او کولرج Coleridge او داسي هم د لرغونو یونانیانو په لیکنو سره متاثره شوی وه. هغه په دې لټه کې شو چې خپل ټولنیز درېځ د انساني سلوک له ټولو اړخونو سره معتدل کړي. ټولنه هم، د انسانانو په ځېر، چې په غېږ کې یې نیولې، د روحیاتي او جذباتي قوتونو تر اثر لاندي ده.


Coleridge کولرج

د ګټورتوب فلسفه په اساس کې پر اخلاقي بنسټ ولاړه ده او هغه دا چې "خوښي ښه ده." په تېره پېړی کې ډیوېډ هیوم (David Hume)په فلسفه کې د اخلاقیاتو د داخلولو پر ضد ډېر پیاوړی استدلال کړئ وو. " د اخلاقیاتو په هر سیستم کې... لیکونکئ د ځه وخت لپاره په عادي استدلال سره مخ په وړاندي ځي او د خدای تعالي شته والئ ثابتوي، یا د انساني چارو په اړه مشاهده کوي. زه هغه وخت سمدلاسه حیران شم چې د شته (is) او نشته (is not) د فرضیو پر ځای دغه فرضیه نه وینم چې له " باید (might)" یا " نه باید (might not)" سره تړاو ونه لري. دغه تعبیر غیر محسوس دئ، خو هغه تر نهایي درجې د اهمیت وړ دئ". .

هیوم چې دغه مخفي استدلال رابرسېره کړ، دغي نتیجي ته ورسېد چې " د بدي او ښېګني توپیر یوازي د ځیزونو په اړیکو کې نغښتئ دئ، او په عقل سره نه درک کیږي." اخلاقیات یوازي د احساساتو او نظرونو موضوع ده. هغه د فلسفي بحثونو له ډګر نه دباندي ده. هره فلسفه چې پر اخلاقیاتو بنا وي، لکه د ګټورتوب فلسفه، مجبوره ده چې خپله لاره د هیوم د استدلال په خوا او شا کې و مومي.

له هماغه اول نه واضحه ده چې د مِل د ګټورتوب فلسفه د استدلال ژورتیا او باریکي لري." یوازنی ثبوت چې د ورکولو دئ، دا دئ چې یو ځیز چې د لیدلو وي، دا وي چې خلک یې په رښتیا وویني. یوازنی ثبوت چې اواز اوریدل کیږي دا دئ چې خلک یې اوري: زموږ د تجربې نور منابع هم همدغه شان دي. په همدغه ډول یوازي د مشاهدې په درک سره ممکنه ده چې هر هغه ځیز تولید شي چې مطلوب وي، یاني خلک یې په رښتیا غواړي." بیا نو دی په دغسي مهارت سره چې هیڅ پټ او مخفي نه دئ وړاندي درومي او وواېي چې : د یوه ځیز موندنه او خوندناکه


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

*مونده او کرکه تربڼه کول او دردناک يي ګڼل هغه څيزونه دي چي سره نه بېلېدونکي دي، يا د هماغو څيزونو دوی بېلي برخي دي. ... د هر هغه څيز غوښتنه له هغه تناسب نه پرته چي ايډيا يي خوښوونکي ده، فزيکي او ميټافزيکي ناشونتيا ده."*

*مِل* د *هيوم* له استدلال نه خبر او په دې لټه کي دئ چي پرې لاس بری شي. دی په خپل استدلال کي چيرته چي يوازي د *ښته* کلمه ده په پټه نه ګډوي او پر ځای يي يو روحياتي واقعيت وړاندي کوي. د لته مناسبه ده چي د *بنتهام* د فلسفي د پرنسيپونو جوهر بيا راوړل شي، چي *مِل* پرې معتقد وو. *" طبيعت انسانان د دوو خپلواکو بادارانو، " درد او خوښي" تر حاکميت لاندي کړي دي. يوازي هغو ته په مراجعي سره ده چي مونږ څه وکړو. لکه هسي چي ټاکو څه به وکړو. ... د ښه او بد معيار د دوی په حکم پوري تړلئ دئ. دوی مونږ اداره کوي، په ټول هغه څه کي چي کوو يي، په ټول هغه څه کي چي وايو، په ټول هغه څه کي چي فکر کوو. هر کوښښ چي کوو له خپل محکوميت څخه ژغورل دي، له دې نه غبرګ څه نه وي، چي ... د ګټورتوب دغه پرنسيب وښودل شي، او تائيد شي."*

د *هيوم* شرط يا قېد د ګټورتوب په فلسفه کي پر ځای وو. د ګټورتوب فلسفي پرنسيپ بې له شک نه مجرم دی: *"خوښ ايسېدونکئ هغه دئ چي غواړو و يي کړو."* بل ګام يي هم مجرم دئ: *"د نېکمرغی د خورا ډېرو، خورا ډېره نېکمرغي "* ده. نو مونږ بايد *"خورا ډېره نېکمرغي د خورا ډېرو د پاره ولټوو."* دواړو *بنتهام* او *مِل* داسي ګڼله چي دوی د *هيوم* سوچه فلسفي استدلال ته د سايکولوجيکي واقعيت په داخل کولو سره ځواب ورکړئ دئ. دا هغسي ده چي مونږ سلوک کوو، او دا دغسي ده چي مونږ بايد سلوک وکړو. *سايکولوجيکي واقعيت ( Fact Psychological)* نه يوازي اخلاقي وظيفه کيږي؛ هغه دواړه نه سره وېشل کېدونکي دي.

د ګټورتوب فلسفه زمونږ د يوويشتمي پېړی حساسيتونو ته له مسلم ګڼلو نه پرته بل څه نه ښکاري. په واقع کي مونږ د ګټي رسولو يا د ګټورتوب د فلسفي په عصر کي ژوند کوو. کوم هغه دليلونه چي *بنتهام* وړاندي کړل، او *مِل* هغه تشريح او تفسير کړل، وار په وار يي ډېر پلويان موندل، تر څو چي *خورا ډېرو ته يي خورا ډېره خوښي* په برخه کړه. د شلمي پېړی ټول هغه کوښښونه ،چي ناسم يي ثابت کړي، مصيبتناک شول[1]. حتی په هغو نادرو وختونو کي چي ازميښت يي وشو، عملي کوونکي يي مجبوره شول ادعا وکړي، چي دوی د هغه په نامه عملکوي. کمونيزم په تيوري کي هغه ومنله، لکه چي د کارګرو ډېر غټ پوسترونو اعلام وکړ، چي *نېکمرغي د ټولو لپاره* راتلونکي ده. فاشيزم په تيوري کي د هغه محدود نژادي شکل ته ځان متعهد کړ، چي ګواکي *نېکمرغي د ټول لاندي کوونکي نژاد حق دئ*. دغه دواړه اعلام شوي شکلونه د *مِل* د لبرلي شکل تقليد ثابت شول.

د لبرل ګټورتوب ايډيالوجي، چي *مِل* ورته انکشاف ورکړ، د هري هغي ټولني له لاري چي څومره ازادېدله، هغومره خپرېدله، تر دې حده چي د ګټورتوب دغه پرنسيپ اوس د لوېديز ډول ډموکراسيو کي د اساسي قانوني حق په شان شوئ دئ. هيڅ سياستمار به د هغه د نقض خيال کولي و نه شي. حتی هغه غوښتني هم چي سختي ګاني وګالي، ټولو ته د ښه والي په عبارتونو کي تل په دغه ژبه ويلي چي د خوښی ښې ورځي راتلونکي دي.

---

1 . ريه تالی ستيوارت د "اور په افغانستان کی" په نامه کتاب کی ليکی: "...او امان الله ، د محمود طرزی له لياری د ترکانو يوو خاصی ډلی سره چی ځان ته ئی ترک ځوانان ويل، احساسی اړيکی لرلی. دغو ځوانانو د خپل هيواد د عصری کيدو او د اساسی قانون د بيرته ژوندی کولو لپاره چی ډير کلونه نافذ و ملا تړلی وه. د دوی يو ملګری د مصطفی کمال په نامه په دی ګناه چی د ليکونکی جان ستيورت مِل لمسوونکی آثار ئی لوستلی وو، بندی شوی وو. بل ليکونکی چی ترک ځوانانو د هغه آثار لوستل محمود طرزی وو. چی نا خيری شوی او نيينداره ليکنی ئی په پټ ډول لاس په لاس ګرځيدلی. فصل ٢ ، مخ ٩" ... په بل عبارت داسی بريښی چی اعليحضرت امان الله خان په غير مستقيمه توګه د مِل له افکارو څخه متأثر وو. س.هومان



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و يا spineghar@gmail.com

خو دغه خوښي په دقيق ډول څه ته وايي؟ کوم څيز دئ چي مونږ خوښ کوي؟ مِل له اول نه دې مسئلې ته متوجه وو. هغه پوهېده چي د بنتهام په پرنسيپ کي " ګټورتوب" له حد نه ډېر تينګ نيول شوئ دئ. بنتهام ګټورتوب په دغه ډول تعريف کړئ وو: " ... په هر هغه څيز کي، هغه خاصه چي په هغې سره ګټه، ښيګڼه، خوښي، ښه والئ يا نيکمرغي توليد شي... يا د زيان، درد، بدي، يا د بدمرغی مخه ونيوله شي." دا ممکن کافي پراخ ښکاره شوئ وي، خو په هغه شيبه کي چي د سپيڅلي توب محاسبه عملي شوه، هغه په حيرانوونکي ډول ساده او ابتدايي شو. دغه محاسبه ښه مجهزه وه چي کميت(Quantity) په محاسبه کي ونيسي، خو څه وخت چي کيفيت (Quality) په نظر کي ونيول شي، هغه له نظره غورځېدلئ وو، او هغه دا وو چي په عمل کي پيښ شول. د بنتهام ګټورتوب په زياته اندازه يوازي د ډېر ښکته ګډ معيارله مخي د خوند يا لذت وو.


چالز داروين ( Charles Darwin)

له بلي خوا د مِل تعريف کميت، کيفيت او پرمختګ په نظر کي نيسي. "... دا بايد د خورا پراخ مفهوم ګټورتوب وي چي د پرمختګ کوونکي انسان په تلپاتي ګټي بنا وي." د نيکمرغی په دغه نظر کي د څيزونو د ښه کېدلو ايډيا پرته ده. مِل دلته د خپل عصر د ډېر تازه نظر سره په ليکه کي وو. د هغه د ګټورتوب د فلسفي د خپرېدلو نه بس دوه کاله دمخه د چالس داروين ( Charles Darwin) د ژونديو جنسونو د سرچيني ( Origin of Species) په نامه اثر خپور شوئ وو. د مِل د پرمختګ ايدياګانو د تکامِل مفهوم په نظر کي نيولئ وو. خو سره له دې هم په دقيق ډول يې د هيوم د شته/ بايد ( is/ought) اعتراض سره ستونزي لري. ( پرمختګ د تولني لپاره ښه دئ، مونږ بايد د پرمختګ لپاره کوښښ وکړو.) داسي ښکارېده چي هغه په عملکي اهميت نه لاره. د انسان د پرمختګ ايډيا به د نيکمرغی په شان توله ومنله شي. زمونږ د ګټورتوب عصر دا هم د اساسي قانون په شان پېژندلئ دئ. ( حتی تش په نامه محافظه کار يا د ساتنپالني ګوندونه به دغه ضرورت حس کړي، چي خپل تعريف د پرمختګ لپاره نقض کړي،) مِل ټينګار وکړ، چي تولي نيکمرغی سره برابر ارزښت نه لري. رښتنی نيکمرغي د "روحي بشپړتوب" ( spiritual perfection) لوړه درجه په ځان کي لري. په عملکي احتمال لري مونږ هغه وخت نور هم بريالي شو، چي په نانېغ ډول د نيکمرغی د خپلولو لپاره کار وکړو. دی د رښتين توب او ښکلا په اغېزې ټينګار کوي. دا د حساسيت ترزيق غواړي. پوهنه او داسي هم تجربه د نيکمرغی د ژوري درناوی لامل کيږي. د مِل د ګټورتوب فلسفه په دغه ډول د خوندورتوب (hedonism) د ډېر ښکته معيار څخه لوړ مقام ته هسک کيږي، خو دا د خاصانو رنګ او بوی لري. حتی پخپله محتاط بنتهام هم منلي وه، چي يو څوک به کله د يوې ساده لوبي په کولو سره هغومره خوښ شي چي لکه د موسيقي کومي ژوري سمفوني ته چي يې غوږ نيولئ وي." تعصب چي له نظر نه وغورځول شي د اکوبکو لوبه د موسيقي او شعر پوهو او هنرونو سره يو شان ارزښت لري." دلته به د هغه سپيڅلي محاسبه له روحياتي نظرونو سره همغاړي ښکاره شي.

مِل له دغي مسئلي نه خبر وو. له هغه څخه يي حتی ګټه پورته کړه، چي د ګټورتوب په فلسفه کي د لبرل فکر داخل کړي. د خوښی ارزښت په هغه ښيګڼه کي پروت دئ چي د فرد ژوند ته يي راوړي. بيا هم د تولو له ګټي سره بايد د تولو ملاحظه په نظر کي وي. اجبار بايد هيڅ نه وي. نيکمرغي په هغه تولنه کي په ډېره ښه توګه نفوذ کولی وشي، چي هلته هر څوک برېښنول شي چي د خپلي خوښي نيکمرغي و لټوي. يوازنی شرط بايد داوي چي د نيکمرغی دغه


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و يا spineghar@gmail.com

فردي ډول د نورو د نېکمرغی له رقم یا عمومي ښه والي سره ټکر و نه کړي. د لبرلیزم دغه ډول ترویج د *"خورا ډېره نېکمرغي د خورا ډېرو"* پر ضد په عمومي استدلال باندي بري مومي. دغه ډول استدلال چي په لفظي لحاظ او تر څه حده په نظر کي ونیول شي. د ګټورتوب فلسفه به د عوامو غرغړه کول بېرته جاري کړي. له هر نظر نه چي ورته وکتل شي، د ډېرو *ساډیزم (sadism)* [ له ډېري بېرحمی او ظلم څخه خوند اخستل] به د ښکار د قرباني فردي عذاب په یقین سره تر سیوري لاندي کړي، خو نه د *مِل* د نېکمرغی د نه مداخلي ډول.

د *مِل* د لیبرلي تعریف نېکمرغی - هر یو خپل ځان ته - د نېکمرغي محاسبي او دهغه عمومي کېفیت ته یو ډول ستونزه وړاندي کوي. نېکمرغي اوس باید په دغه ډول تفسیر شي، چي د هر راز محاسبي لپاره تیاره وي. له بلي خوا داسي استدلال به وشي، چي د فردي نېکمرغی محاسبه تر دغو شرایطو لاندي نه شونکي او نه ضروري ده. مونږ به څنګه وکولی شو چي د *خورا ډېرو، خورا ډېره نېکمرغي* محاسبه کړو؟ ځرګنده ده چي د سلیم عقل له تجربي معیار نه باید دلته کار واخستل شي: یوه عمومي هوکه.

دا د *مِل* د منطق سره جوړ راځي، چي د هغه له *امپریسیزم*، د هغه له *لبرلیزم* او د هغه له *یوټلیټریانیزم (د ګټورفوب فلسفه)* څخه یو اتحاد جوړ وي. په داسي حال چي هر فرد د خپلي خوښي نېکمرغي غواړي، ضروري کېږي چي د نیکمرغی کشف تجربي وي. داسي هم، له پخوا نه ټاکل شوی، د ټولو د نېکمرغی د تضمین لپاره یا له باندي نه فکر پکي هيڅ لاره و نه لري. او د ټولو د نیکمرغي تجربي محاسبه به له شمېرېز استقراء سره د پام ورته والئ ولري. د تېروتني لپاره به ور خلاص وي، خو تکرار به یې یقیني توب نورهم پیاوړئ کړي. *" یوازي شواهد کافي دي چي ممکنه ده هر هغه څه چي غوښتل کیږي، دا وي چي خلک یې په رښتیا غواړي".* دا به دائروي ښکاره شي، خو یو ځل به دا سایکولوجي وي چي د هیوم د *شته/ باید* اعتراض په غوځ ډول ځواب کړي. لکه *مِل* چي وایي: *"که موخه، هغسي چي د ګټورتوب فلسفه یې وړاندیز کوي، په نظر او عمل کي د موخي په شان و نه منل شي، هيڅ څیز به هيڅ څوک، هیڅ وخت قانع کولی و نه شي، چي هغه همدغسي وه".*

خو آیا دا ټول تصویر دئ؟ په یقین، مونږ کله غوره ګڼلی شو چي له خپلي خوښي نه غیر د یوه بل څیز لاس ته راوړلو لپاره عمل وکړو. مونږ د غیر غوښتني یا د دندي په مفهوم سره عمل کولی شو، خو د *" سم څیز کول"* هم مونږ ته خوښي راکوي - په خپلو ځانوکي د ویاړ، خوښي، په شکل او په ټولنه کي زمونږ د ارزښت وړ احساس او په داسي نورو شکلونو. د نېکی او ښېګڼي ترزیق په دې ډول فرد او ټولني ته خوښي ښیي. بیا نو د نېکمرغی لا ډېر ژور مفهوم ته راځو، چي مونږ د *" روحي بشپړتوب Spiritual Perfection"* په لور نور هم هڅوي.

نېکمرغی ته د *مِل* د فردي غوښتني ټینګار، فرد مجاز کوي چي خپل ځان ته په ګټور او په ټولیز ډول انکشاف ورکړي. دی په دې ډول ټول کېدای شي، او خپل ټول امکانات لټوي. خو دا یو څه خوښ لیدل دي. د *مِل* د فارمول جوړښت په یقین سره لار پرانیزي. چي دغسي وشي، خو دا چي هغه به همدغسي وکړي ، هغه بله خبره ده. زمونږ سیکالوجي، چي ازاده پرېښوولہ شي، موږ د رنګا او خوړوالي په لور تل نه رهي کوي. دا یو نسل وروسته وو چي سیګمند فروید *(Sigmund Freud,)* (۱۸۵٦-۱۹۳۹) شرح کړه چي عصبي ناروغي، غیر شعوري، او ځان بربادوونکي محرکونه زمونږ په عملونو کي غټ رول لوبوي. له بلي خوا د *مِل* لبرلیزم، د نورو په سلوک کي د پلارواکي ډوله مداخلي مخه ونیوله، ددغي ګڼني له مخي چي په مونږ کي ډېر نه پوهیږي، چي کوم څیز مونږ ته ښه دئ.


سیګمند فروید

د *مِل* په وخت کي حتى د اجتماعي بنه والي کوښښونه په معمولي ډول ددغي پلارواکۍ د پرنسيپ له مخي کېدل. *بنتهام* او د *مِل پلار* په يقين سره همدغسي فکر کاوه. دوی خپله عقيده په ازادي اعلامولهٔ، خو هغه ډېره ايډيالي او نظري مفکوره ثابته شوه، چي له واقعيت سره يي ډېر تړاو نه لاره. د لومړي لاس تجربي *مِل* خپلي پايلي ته يو ځل وهڅوه. فرد خپلي ازادي، او د خپلي ازادئ د تفسيرولو حق لري.

بيا نو دا حيرانوونکي نه ده چي *مِل* په دغه وخت کي خپل ډېر نفوذناک اثر، *"د ازادی په اړه" (On Liberty)* خپور کړ. ده په هغه کي شرح کړه چي دی د *اختيار او جبر* په فلسفي اړخ نه ګرځېږي، خو د *"قدرت له ماهيت نه او محدوديتونو څخه، چي د ټولني له خوا په فرد باندي په مشروع ډول چلول کيږي." مِل* په خپل دغه اثر کي وايي چي: *" د ازادی او قدرت تر مينځ جګړه د تاريخ د هغي برخي ډېر ځرګند خصوصيتونه دي، چي مونږ له ډېر پخوا نه ورسره اشنا يو."* دی دا هم واضح کوي چي هغه د معاصري ټولني *" ځرګند خصوصيت"* هم جوړوي، که څه هم په اروپا کي تر انګلستان نه ډېر دغه حال وو. په انګلستان کي *" زمونږ د سياسي تاريخ د خاصو حالاتو له امله ... په شخصي سلوک د مقننه يا اجرائيوي قوی له خوا د مداخلي په اړه د پام وړ حساسيت موجود وو."* دا *" دغومره د فرد د خپلواکی له امله نه وو، لکه د هغه د پاتي شوي سلوک له مخي چي وو، چي حکومت ته لا هم داسي کتل کېدل، چي د خلکو د ګټو پر ضد استازي کوي."*




*جان ستيورت مل*

د همدغه دليل له امله وو چي [اوس هم] زياترو خلکو لا نه ده منلي، چي د حکومت قدرت د دوی خپل قدرت يا د هغه نظرونه د دوی خپل نظرونه دي.

پايان بخش پنجم
ادامه دارد

بخش های اول الی چهارم را به کمک لينک های ذيل مطالعه فرمائيد:

Part ۱
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/Kakar_H/hassan_k_de_aazaadi_falsafey_۱.pdf

Part ۲
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/Kakar_H/hassan_k_de_aazaadi_falsafey_۲.pdf

Part ۳
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/Kakar_H/hassan_k_de_aazaadi_falsafey_۳.pdf

Part ٤
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/Kakar_H/hassan_k_de_aazaadi_falsafey_٤.pdf